






الحاج عبدالمجيد « نقيبي »

د نشر نېټه : 30 دسمبر 2014 م

# احساس

دا خپل سينه درته څيرلی نه شم
حال مي د زړه چا ته ويلی نه شم

د زړه احساس خو دزړه احساس غواړي
په ا شارو څوک پوهولی نه شم

بس کړه خفګان مکړه ژړا مه کوه
اوښکي په سترګو دې ليدلی نه شم

ستا په غمو کي ځا ن شريک ګڼمه
ستا په سر ظلم او زور منلی نه شم

دا ستا په غم کي مي هرڅه هير کړي
په د که خوله خندا کولی نه شم

دا ظلم او زوردې لکه لمراشکار دی
لمر په دوه ګوتو پټولی نه شم

يو وخت مو ښه آباد کورونه درلود
اوس دا وران کلی پيژندلی نه شم

خود به مي غړ درباندې بد لګيږي
ځکه زه چوپ پاتې کيدلی نه شم

تر هغوئ ليکم چې ښووس لرمه
د قلم ژ به بند ولی نه شم

نقيب خوهرافغان سرلوړی غواړي
غليم يي هيڅکله کله زغملی نه شم
****
عبدالمجيد « نقيبي »
برول- کلن- جرمني

بازگشت به صفحه اصلی    www.said-afghani.org